د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 10 اپریل، کال 2026ء (بمطابق: 21 شوال شریف، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

## قرآني بیان

پهٔ نوم

# د دِین ضرورت ولې؟

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ۔۔۔ د دِین ضرورت ولې---؟
- ۔۔۔ د بے دِینه اِنسان کم عقلي
- ۔۔۔ هیُومَن اِزم د بے عقلۍ تازه مثال
- ۔۔۔ شریعت یا خپل مزاج ---؟

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُالْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُود شريف فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې قرآنِ کريم ولوستلو او د خپل رَبِّ کريم حمد يې اوکړو او په ما باندې يې درودِ پاک ولوستلو او د الله پاک نه يې د بخښنې سوال اوکړو نو هغهٔ خير د هغې د ځائے نه ولټولو-[1]

اِسے لب پہ اپنے سجاؤ میاں! وسیلہ ہے بخشش کا سارا درود
نکالے غموں کے تلاطُم سے یہ کہ ہے راحتوں کا کنارہ درود

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِي الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعًا ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا
خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ
اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۳۹﴾ (پاره: 1، سورهٔ البقرة: 3938)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: مونږه وفرمائيل: تاسو ټول د جَنَّت نه کوز شئ بيا که تاسو ته

---

[1] ... شعب الايمان، باب في التعظيم القرآن، فصل في استحباب...الخ، جلد:2، صفحه:373، حديث:2084۔

زما له طرفه څهٔ هدايت راشي نو څوک چې به زما د هدايت تابعداري کوي پهٔ هغوئي به نهٔ څهٔ ويره وي او نهٔ به هغوئي غمژن کيږي- او هغه خلق چې کُفر به کوي او زما آيتونه به دروغژن ګڼي هغوئي به دوزخيان وي هغوئي به هميشه پهٔ هغې کښې اوسيږي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د آيت مبارک مرکزي مضمون

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ د وړومبی سيپارې، د سورۀ بقره د آيت: 38 او 39 د اوريدو سعادت حاصل کړو، پهٔ دې 2 آيتونو مبارکو کښې زمونږ د پاره د ژوند معيار بيان کړے شوے دے- هغه وخت کله چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام تخليق هم نهٔ وو شوے، د هغې نه مخکښې د فرښتو پهٔ مخکښې دا اِعلان اوکړے شو چې

| | |
|---|---|
| اِنِّیْ جَاعِلٌ فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً ؕ (پاره:1، سورۀ البقرة:30) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: زۀ پهٔ زمکه کښې خپل نائب جوړولو والا يم- |

بيا چې کله حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام خپل د خلافت ځائے يعني زمکې ته تشريف راوړو نو 🌸 هغوئي او د هغوئي راتلونکے اولاد به دا د خلافت منصب څنګه پوره کوي؟ 🌸 د هغوئي منشور (ضابطه) به څهٔ وي؟ 🌸 اِنسان ته د خپل ذات پهٔ باره کښې، د خپلې کورنۍ، د خپل کور، د خپلې محلې او د ټولې معاشرې د پاره پهٔ هر لحاظ سره پهٔ کومو اُصولو ژوند تيرول دي؟ 🌸 دا دُنيا پهٔ کومو بنيادونو سره ابادول دي؟ پهٔ دې باره کښې يو واضحه سبق راکړے شو، اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِیْعًا ۚ فَاِمَّا یَاْتِیَنَّكُمْ مِّنِّیْ هُدًى (پاره:1، سورۀ البقرة:38) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: مونږه وفرمائيل: تاسو ټول د جَنَّت نه کوز شئ بيا که تاسو ته زما له طرفه څهٔ هدايت راشي- |

معلومه شوه چې اِنسان پهٔ دې دُنيا کښې، زمکې ته راغلو، اوس دلته ژوند هغه ته ❁ د خپل عقل مطابق نهٔ دې تيرول ❁ د خپلې خوښې ❁ د خپل خواهش ❁ د خپلو خيالونو او سوچونو مطابق نهٔ دي تيرول بلکې هغهٔ ته به د ژوند د تيرولو طور طريقې، د خپل ذات نه واخله تر د ټولې معاشرې پورې،تمام اصول او قاعدې، ټول هدايات د الله پاک د طرف نه ورکولے شي او هم داسې وشول، الله پاک نبيان راوليږل، کتابونه يې نازل کړل او د ټولو نه پهٔ اخره کښې يې خپل محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راوليږلو او پهٔ هغوئي باندې يې خپل اخري کلام قرآنِ مجيد نازل کړو او د اِنسان د پاره يې د هدايتونو سلسله مکمله کړه- اوس د اِنسان سره هم دغه مکمل دستور دے ❁ اوس مونږ د خپل ذات پهٔ لحاظ سره ❁ د خپل کور پهٔ لحاظ سره ❁ د خپل کاروبار پهٔ لحاظ سره ❁ د رسم او رواج پهٔ لحاظ سره ❁ د ټولې معاشرې پهٔ لحاظ سره ❁ غرض دا چې پهٔ هر لحاظ د خپل عقل، د خپل سوچ، د خپلو جذباتو، د خپلو خيالاتو نهٔ بلکې د الله پاک د طرف نه د عطا کړې شوي دې هدايت پابند يو- الله پاک فرمائي:

فَمَنْ تَبِعَ هُدَایَ فَلَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَ لَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا وَ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَاۤ اُولٰٓىٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِۚ هُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۳۹﴾

(پاره:1، سورۂ البقرة:38_39)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: نو څوک چې به زما د هدايت تابعداري کوي پهٔ هغوئي به نهٔ څهٔ ويره وي او نهٔ به هغوئي غمژن کيږي- او هغه خلق چې کُفر به کوي او زما آيتونه به دروغژن ګڼي هغوئي به دوزخيان وي هغوئي به هميشه پهٔ هغې کښې اوسي-

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې

آيتونو خُلاصه بيان کړې ده او ليکلي يـې دي چې حضرت آدم او حضرت حوَّا عليهما السّلام چې کله د جَنَّت نه راروان شول نو هغوئي ته دا معلومه نۀ وه چې آيا مونږ د هميشه د پاره ځو يا به بيا چرته دلته (واپس جَنَّت ته) راتلل هم نصيب کيږي؟ د هغوئي د اطمينان د پاره وفرمائيلے شو چې اوس خو تاسو ټول د جَنَّت نه کوز شئ او زمکې ته لاړ شئ! هلته به پۀ تاسو باندې زمونږ د کرم نظر وي، مونږ به تاسو (يعني ستاسو اولاد) ته خپل هدايت يعني انبيائے کرام عليهم السّلام، کتابونه او بيا د انبياؤ نائبان عالمان او مشائخ درليږو، (بس اے آدم عَلَيْهِ السَّلَام! ستاسو پۀ اولاد کښې) ❁ چې څوک زمونږ د هدايت مطابق عمل اوکړي، هغۀ ته به نۀ د راتلونکي عمر د پاره ويره وي او نۀ به د تير عمر غم وي بلکې هغه به پۀ دواړو جهانو کښې ښاد او خوشحاله اوسي او څوک چې زمونږه هدايت د زړۀ نه نۀ مني ❁ او زمونږ د څۀ نخښې (يعني) يو اسماني کتاب يا يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه اِنکار اوکړي ❁ د ځناورو پۀ شان د خوراک، څښاک او ❁ د دُنيا مزې کول خپل اصلي مقصد وګڼي، هغه به هميشه د دوزخ پۀ وور کښې سوزيږي او چرته به هم د هٔغه ځائے نه وتلے نشي- (1)

## د دِين ضرورت ولې---؟

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** پۀ دې آيتونو مبارکو کښې مونږ له واضحه سبق راکړے شو چې مونږ د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام اولاد يو يعني هٔغه هستي کوم چې الله پاک خپل خليفه جوړ کړے او زمکې ته يـې راوليږلے، مونږ د هغوئي پۀ اولاد کښې يو، مونږ پۀ دې دُنيا کښې بالکل ازاد يا بے مُهاره نۀ يو بلکې زمونږ د پاره دلته ❁ د ژوند د تيرولو ❁ د ځان ❁ د خپل کور ❁ د خپلې معاشرې د ټيک کولو د پاره باقاعده هدايات راکړے شوي دي، د قرآنِ مجيد پۀ شکل کښې، د الله پاک د دِين پۀ شکل کښې زمونږ د پاره مکمله

---

[1]... تفسير نعيمی، پاره:1، سورۀ بقرة، زير آيت:، جلد:1، صفحه:317و 321 خلاصةً۔

ضابطه او اُصول بيان کړے شوي دي ❀ مونږ هر ساعت ❀ هر وخت ❀ هر ځائے ❀ په هر لحاظ سره د دغه اُصولو، د دغه ضابطو يعنې د دِين او د شريعت پابند يو او مونږ ته هم د دِين او د شريعت په تابعدارۍ کولو ژوند تيرول دي- که د دې نه لرې شو نو زمونږ به نه په دُنيا کښې کاميابي نصيب شي او نه به په اخرت کښې نجات حاصل کړے شو-

## د دِين او د اِنسان پيژندګلو

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا حقيقت دے چې اِنسان په دې دُنيا کښې هر ساعت د اِلـهامي هدايت محتاج دے- نن د بے دِينو او د غير مسلمو ډيره شميره ده، کوم چې دا وائي چې مونږ ته د هيڅ يو دِين (***Divine Guidance***) ضرورت نشته، مونږ خپلې ټولې معاملې په خپل عقل باندې حل کوو- (مَعَاذَالله! اَستَغفِرُالله)

بيا دې خرابې نظريې ته کله د هيومَن اِزم (***Humanism***) نوم ورکړے کيږي او کله ورته اِلحاد وئيلے کيږي او کله ورته د ډِي اِزم (***Deism***) رنګ ورکړے کيږي- غرض دا چې د بے دِينو او غير مسلمو يو پوره تحريک دے، کوم چې خلق په دې وئيلو ګمراه کوي چې اخر مونږ ته د اسماني دِين ضرورت څۀ دے؟ مونږ هر څۀ په خپل عقل باندې ولې نشو کولے؟ د بے دِينو دا اِعتراض ډير زورور ګڼلے شي او دا بے عقله په سوشل ميډيا وغيره باندې دا اِعتراض ډير په جوش او جذبې سره د عام کولو کوشش کوي-

وګورئ ډيره ساده شان خبره ده، اِنسان له دومره عقل هم نۀ دے ورکړے شوے چې دا د خپلې هرې معاملې حل په عقل باندې راوباسي بلکې رښتيا خبره خو دا ده چې د دِين او د شريعت نه بغير د خپلو معاملو او د مسئلو حل راويستل خو غټه خبره ده، اِنسان د خپل عقل په ذريعه خپل ځان هم نشي پيژندلے-

## د بے دِينه اِنسان کم عقلي

د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله تر د اوسه پورې صدۍ تيرې شوې، په دې موده کښې ډير لوئي لوئي فلسفيان هم راغلل، ډير لوئي لوئي ماهره سائنسدانان هم راغلل، لوئي لوئي عقلمند هم تير شول، تاريخ ګواه دے چې په دومره صدو کښې چې چا هم د دِين نه اِنڪار کړے دے، د ژوند بنياد يې د الله پاک په راليږلے شوي هدايت باندې نۀ بلکې په خپل عقل باندې ايښودے دے، هغوئي خو عزت څۀ ومونده چې اُلټا د ذِلت سره مخ شوي دي، تاريخ ولولئ او وګورئ چې چا دِين نۀ دے منلے، هغه يا خو ❁ ستوري خپل خُدايان منلي دي ❁ يا يې د نمر عبادت شروع کړے دے ❁ چا ونو ته سجدې کړې دي ❁ چا د وور عبادت کړے دے ❁ او چا کاڼو ته سجدې کړي دي، يعني دا په عقل باندې د هر څيز بنياد ايښودونڪي، دومره عقل هم نۀ لرلو چې په خپلو لاسونو باندې بَل کړے شوے وور د عبادت لائق څنګ کيدے شي---؟

## د حضرت عَمرو بن جَمُوح رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واقعه ده

يو اَنصاري صحابي دے، حضرت عَمرو بن جَمُوح رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- دے د خپلې قبيلې سردار وو، ډير هوښيار او عقلمند وو، هغوئي لا اِسلام نۀ وو قبول کړے، د هغې نه مخکښې خبره ده، هغوئي په خپل کور کښې د لرګي نه جوړ کړے شوے يو بُت ايښودے وو، دوئي به هغې ته مَنَات وئيلو او هغه به يې خپل خُدائے منلو- کله چې په مدينه منوره کښې د اِسلام رڼا خوره شوه نو د عَمرو بن جَمُوح (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) د ځامنو هم هدايت نصيب شو، هغوئي هم اِيمان قبول کړو، بيا هغوئي خپل والد صاحب ته د اِسلام دعوت ورکړو خو هُغه وخت عَمرو بن جَمُوح (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) په هغه خلقو کښې وو، کوم چې د الله د دِين دښمنان او په عقل پسې تلونڪي وو، هغوئي د اِسلام قبلولو نه اِنڪار اوکړو- د هغوئي

ځامنو د خپل والد د پوهه کولو د پاره يو بندوبست اوکړو، داسې يې اوکړل چې کله شپه شوه، ټول خلق اوده شول نو هُغه د لرګي بُت د کوم چې به عَمرو بن جَمُوح [رضی اللہ عنہ] هُغه وخت عبادت کولو، هغوئي هُغه بُت راواخستو او د ګند ډيران ته يې وغورځولو - چې سحر شو نو عَمرو چې وکتل چې مَنَات خو پهٔ خپل ځائے کښې نشته، ډير يې ولټولو، ډير ورپسې وګرځيدو خو هيڅ پته ورته وه نهٔ لګيدله، اخر پهٔ لټولو لټولو د ګند ډيران ته ورسيدو، هلته يې خپل مَنَات پهٔ ذِلت سره پروت وليدو نو د ويرې نه ورپيدو، زر يې راوچت کړو، کور ته يې راوړو، وه يې وينځلو، غسل يې ورکړو، خوشبو يې پرې ولګوله او پهٔ ادب سره يې پهٔ خپل ځائے کښې کيښودو او عبادت يې ورله شروع کړو، پهٔ بله شپه يې شهزادګانو بيا هم هُغه کار اوکړو، پهٔ بل سحر منات بيا پهٔ خپل ځائے کښې نهٔ وو، نن هم پهٔ ډيران کښې ميلاؤ شو، يو څو ځل چې داسې وشول نو بيا عَمرو بن جَمُوح [رضی اللہ عنہ] لږ لږ پوهه شو، نو هغوئي يوه توره د منات غاړې ته واچوله او وه يې وئيل: که پهٔ تا کښې څهٔ خير وي نو نن هم پخپله خپل حفاظت اوکړه-

بيا شپه شوه، د عَمرو بن جَمُوح [رضی اللہ عنہ] شهزادګانو نن څهٔ اوکړل چې د منات د غاړې نه يې توره لرې کړه او د هغې پهٔ ځائے يې ورته مړ سپے زوړند کړو- پهٔ بله ورځ چې کله عَمرو بن جَمُوح [رضی اللہ عنہ] وليدلو نو د هغوئي زړهٔ روښانه شوه، هغوئي منات ته په وَينا شو وه يې فرمائيل: که تهٔ خُدائے وے نو داسې به د سپي غاړې ته پهٔ زوړنديدو نهٔ ذليله کيدلې- د دې نه پس حضرت عَمرو بن جَمُوح رضی اللہ عنہ کلمه ولوستله او اِسلام يې قبول کړو او د هدايت لارې ته راغلو- (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا صرف يوه واقعه ده، داسې پهٔ زرګونو واقعې د تاريخ پهٔ پاڼو کښې موجودې دي- وګورئ چې دا ده د عقل رسيدنه--!! څوک چې د الله پاک

[1]... الاصابة، رقم:5814، عمرو بن جموع، جلد:4، صفحه:502 مفصّلاً-

رالیږلے شوے هدایت راهنما نۀ جوړوي، هغوئي خپل ځان خومره لاندې غورځوي، معلومه شوه چې مونږ د خپل عقل په ذریعه د خپل ځان قدر او قیمت هم پوره نشو پیژندلے نو باقي پاتې معاملې عقل څنګه ټیک کولے شي۔

## هیومن اِزم (Humanism) د بے عقلۍ تازه مثال

پۀ اوسني ترقي یافته دور کښې وګورئ چې کوم بے دِینه دي، د چا چې دعویٰ ده چې مونږ د اِلـهامي هدایت (***Divine Guidance***) نه بغیر هم خپلې معاملې ټیک کولے شو، لکه څنګه چې هیومن اِزم (***Humanism***) دے ډي اِزم (***Deism***) وغیره دے، هغوئي اِنسان ته د ځناور نه زیات اهمیت نۀ دے ورکړے۔ هغوئي دا مني چې لکه څنګه نور ځناور د کائنات حصه ده، هم دغه شان اِنسان هم د دې فطرتي کائنات یوه حصه (***Part of Natural world***) دے۔

دا ده د عقل رسیدنه---!! هُغه تش پۀ نوم عقلمند د کومو چې دعویٰ ده چې زمونږ دِین ته ضرورت نشته، زمونږ د پاره عقل کافي دے، دا د هغوئي حال دے، لا د اوسه پورې خو یـې ځان هم نۀ دے پیژندلے، ځان یـې د ځناور نه زیات هیڅ نۀ دے ګڼلے---!! دا صرف دِین دے کوم چې پۀ نې ترقي یافته دور کښې نۀ بلکې پۀ زرګونو کاله مخکښې وئیلي وو چې اِنسان د ځناورو پۀ شان د دې فطرتي کائنات برخه نۀ ده بلکې پۀ دې کائنات کښې **د الله پاک خلیفه** دے۔ رَبِّ کریم اِنسان د دې **زمکې ساتونکے** جوړ کړے دے۔ پۀ ډیر ساده شان مثال خپله خبره واضحه کووم: پۀ پاکستان کښې ګرمي شروع شوې ده، ډیره زر به ګرمي نوره هم زیاته شي، ډیر زیات پوستهونه به وائرل کیدل شروع شي، خلق به یو بل له ترغیب ورکوي چې "**ګرمي ده، د چرچنو، د مرغو د پاره اوبۀ ږدئ د پاره د دې چې دا بے زبانه د تندې پۀ وجه مړې نۀ شي**" اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ډیر خلق داسې کوي، څوک چې نۀ کوي هغوئي له هم کول پکار دي۔ زۀ چې کوم طرف ته پام راګرځول

غواړم، هغه دا دے چې د سوچ خبره ده، آيا پۀ دې زمکه باندې بل هم داسې څۀ مخلوق شته کوم چې دغه شان د نورو مخلوقاتو خيال ساتي---؟ آيا يو څناور چرته سوچ کړے دے چې زۀ د اِنسان داسې فِکر اوکړم؟ اخر دا خيال صرف د اِنسان سره ولې وي؟ پۀ اِنسان کښې دا جذبه ولې پيدا کيږي؟ ساده شان جواب دے چې اِنسان اَشرَفُ المَخلوقات دے، پۀ دې زمکه باندې چې نور څومره هم مخلوقات دي، هغه ټول د دې دُنيا حصه ده خو اِنسان هٰغه عظيم مخلوق دے کوم چې الله کريم د دې زمکې ساتونکے جوړ کړے دے- دا دِين دے کوم چې مونږ ته وائي:

وَسَخَّرَلَكُمۡ مَّافِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الۡاَرۡضِ جَمِيۡعًا مِّنۡهُ ؕ

(پاره:25، سورۀالجاثيه:13)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او کوم څۀ چې پۀ اسمانونو کښې دي او کوم څۀ چې پۀ زمکه کښې دي ټول يــې له خپل طرفه ستاسو پۀ کار کښې ولګول-

دا دے د اِنسان اصلي قدر او قيمت---!! دا دے د اِنسان اهميت---!! اِنسان د څناورو پۀ شان فطرتي د کائنات حصه (***Part of Natural world***) نۀ دے بلکې پۀ دې دُنيا کښې د رَبُّ اَلعٰلَمِين خليفه او د دې دُنيا ساتونکے دے- هم اِنسان هٰغه دے د چا د پاره چې د زمکې هر څيز مُسَخَّر کړے شوے دے-

څومره د حيرانتيا خبره ده، د چا چې دعوىٰ ده چې مونږ هر څۀ پۀ عقل باندې کولے شو، هغوئي لا د اوسه پورې خپل ځان، خپل صلاحيتونه، خپل اهميت هم نۀ دے پيژندلے نو نور به څۀ اوکړي- دا حقيقت دے چې اِنسان ته خپل اصلي قدر او قيمت، د هغۀ اصلي اهميت او صحيح پيژندګلو هم د دِين پۀ ذريعه ميلاؤيږي- ډاکټر اِقبال وئيلي وو:

خُودی کا سرِّ نہاں لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہ
خُودی ہے تیغِ فَساں لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہ (1)

**وضاحت:** د خودی نه مُراد دے: د اِنسان حقيقت، د هغهٔ پټ صلاحيتونه، د هغهٔ قدر او اهميت- مطلب دا دے چې د اِنسان حقيقت او د هغهٔ د صلاحيتونو پټ راز پهٔ لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہ کښې دے- د څو پورې چې اِنسان پهٔ لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہ وئيلو (يعنې پهٔ کلمه وئيلو) ځان پهٔ مکمله توګه الله او رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حواله نهٔ کړي، د هٔغه وخته پورې د هغهٔ صلاحيتونه پټ وي، اِنسان کوم چې اَشرَفُ المَخلوقات دے، د څو پورې چې دے د دِين تابعداره نهٔ شي، د هغې پورې دے خپل ځان هم پهٔ پوره توګه نشي پيژندلے- هُم اِقبال پهٔ يو بل ځائے کښې وئيلي دي:

وہ دانائے سُبُل، خَتمُ رُسُل، موْلَائے کل جس نے
غُبَارِ راہ کو بخشا فروغِ وادیٔ سینا (2)

**وضاحت:** يعنې هٔغه د هدايتونو د لارې نه خبر، اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم چې د ټولو آقا او مولیٰ دے، هُم دا د هغوئي اوچت ذات دے، کوم چې د لارې ذرې د طُور ارمان جوړ کړے-

زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د مکے مکرمې بازارونو ته تللو او اِعلان به يې کولو: يَا اَيُّهَا النَّاسُ! قُوْلُوْا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تُفْلِحُوْا اے خلقو! لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ووايئ! (يعنې اسلام قبول کړئ) او کامياب شئ! (3) تاريخ ګواه دے چې د هدايت پهٔ دې اواز باندې چا چا لَبَّيْك ووئيلو، هغه د ترقۍ او عروج هٔغه بام ته ورسيدل د کوم چې سوچ هم

---

1... کلیاتِ اقبال، ضربِ کلیم، صفحه:527۔
2... کلیاتِ اقبال، بالِ جبریل، صفحه:363۔
3... الزہد لابن المبارک، الجزء التاسع، صفحه:334، حدیث:116۔

نشي کيدے، او چا چې د دې نه اِنکار اوکړو هغوئي د ذِلت او رسوايۍ ژورې کندې ته وغورځيدل، وګورئ چې ❀ ابو جهل اِنکار اوکړو، نن ابو جهل چرته دے؟ د هغهٔ نوم او نشان هم باقي نهٔ دے پاتې، حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ کلمه ووئيله نو کوم عروج ته ورسيدو--!! ❀ ابو لـهب اِنکار اوکړو نو تباه او برباد شو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ کلمه ووئيله نو داسې اوچتې مرتبې ته ورسيدو چې نن بے دِينه هم د هغوئي د سيرت نه سبق زده کوي ❀ عُتبه، شَيبَه وغيره د مکے سردارانو اِنکار اوکړو، نن د هغوئي نومونو اخستو والا څوک نشته، حضرت بِلال رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د حبشې وو، هغوئي کلمه ووئيله، بيا هُغه وخت هم زمانې وليدلو چې هغوئي د به د کعبې پهٔ چت ودريدلو او اذان به يـې کولو-

معلومه شوه چې دا دِين دے، دا اِلـهامي هدايت دے، دا د رَبّ راليږلے شوې راهنمائي ده، د دې هدايت نه بغير کامياب ژوند تيرول خو غټه خبره ده چې اِنسان خپل ځان هم پهٔ پوره توګه نشي پيژندلے-

دا مې صرف يو مثال عرض کړو، د دې نه علاوه نورې هم ډيرې مسئلې دي چې اِنسان پرې د زرګونو کالو راسې سوچونه اوکړل خو بيا يـې هم هُغه مسئلې حل نکړے شوې، دا صرف د الله پاک راليږلے شوے دِين دے کوم چې د هُغه مسئلو صحيح حل عطا کوي ❀ مثلاً د نِسوَانِيَّت (***Feminism***) مسئله يعني د زنانؤ د حقونو د مسئلې، د صدو نه اِنسان حل لټولو، د ارسطو او افلاطون پهٔ شان فلسفيانو پهٔ دې باندې ډير سوچونه کړي دي چې د زنانه په معاشره کښې څهٔ اهميت دے ❀ پهٔ نتيجه کښې چا زنانه ته مار ووئيلو ❀ چا ورته شيطان ووئيلو ❀ کله زنانه د ظلم او زور ښکار کړے شوه ❀ کله يـې عزت تار تار کړے شو او پهٔ اوسني ترقي يافته دور کښې وګورئ چې دې عقل پرستو، د دِين نه بيزارو غير مسلمو--!! هغوئي د زنانؤ نه صرف يو اِشتهار جوړ

کړے دے- دا صرف دِين دے، اِسلام دے، کوم چې ووئيل چې ❁ زنانه که چرې لور وي نو رحمت دے ❁ زنانه که چرې خور وي نو عزت دے ❁ زنانه که چرې مور وي نو د هغې د ښپو لاندې جَنَّت دے ❁ او زنانه که چرې د کور ودانې په توګه کور ته راشي نو د هغې په ذريعه د اِنسان نيم ايمان محفوظ کيږي ❁ داسې د معاشيات مسئله--!! پيسه څنګه ګټل دي؟ څنګه لګول دي؟ په دې مسئله باندې هم د صدو پورې بحث کيدلو خو عقل دا حل نکړے شوه، مارکس اِزم، کيپټل اِزم وغيره څومره څومره انقلابونه راغلل، څنګه څنګه تحريکونه راپورته شول خو مسئله هم هُغه شان ده، کوم چې غريبان وو، نور هم غريبانان کيږي، کوم چې مالداره وو، نور هم مالداره کيږي، دا صرف اِسلام دے کوم چې دا مسئله حل کړه، تاريخ ګواه دے، چې " **د حضرت عمر بن عبد العزيز** رَحْمَةُاللهِعَلَيْه **په خپل دوه نيم کاله دورِ خلافت کښې اِسلامي نظام نافذ کړے وو، معاشرې دومره ترقي کړې وه چې څوک د زکوٰة حقدار نۀ ميلاؤيدو-"** [1]

غرض دا چې په زرګونو مسئلې دي په کومو چې اِنسان د صدو پورې سوچونه اوکړل، فِکرونه اوکړل خو حل يې نکړې، دا دِين دے، د الله پاک راليږلے شوے هدايت دے، کوم چې د دې مسئلو ډير غوره حل راويستے دے- دا ټول تاريخي حقيقتونه د دې خبرې ګواهي کوي چې په دې دُنيا کښې اِنسان د دِين او د شريعت محتاج دے، اِنسان پابند دے چې ځان په مکمله توګه الله او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حواله کړي، بيا د هغۀ د خوښې مطابق ژوند تير کړي، په خپل کور، په خپل کاروبار، په خپلو ټولو معاملو کښې شريعت خپل معيار جوړ کړي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په دُنيا او په اخرت کښې به ډيره کاميابي او ترقي حاصله کړي- که چرې اِنسان داسې اونکړل نو بيا که په دُنيا کښې د څۀ مودې پورې اګر که عيش هم اوکړي خو په اخرت کښې به د ذِلت سره مخ کيږي-

---

[1]... سيرة عمر بن عبد العزيز لابن حكم، غنى الناس فى خلافة عمر، صفحه:110 خلاصةً-

# د بادشاه شامت ولې راغلو---؟

منقول دي چې يو ګَس وو، هغه ته هم په ځوانۍ کښې بادشاهي ميلاؤ شوه- بيا هغه پريشانه شو چې اخر به په دې کم عمرۍ کښې، د تجربې د کمي سره دومره لوئي سلطنت به څنګه چلووم---؟ نو هغۀ د خپلو ملګرو او د دربار والؤ سره مشوره اوکړه نو ښو خلقو هغۀ ته ووئيل چې **د سلطنت چلولو د پاره د عالمانو راهنمائي ډېره ضروري ده-** ځوان بادشاه په خبره باندې پوهه شو، هغۀ د ټول ښار عالمان او مشائخ راوغوښتل، د هغوئي په خدمت کښې يې عرض اوکړو چې تاسو ټول زما سره اوسئ! کله چې ما د الله پاک په دِين باندې په تللو وينۍ نو ما ته د هغې حکم کوئ، کله چې ما د دِين نه اخوا وينۍ نو ما د هغې نه منع کوئ-

علمائے کرامو دا ذمه واري سمبال کړه، دې ځوان بادشاه د علمائے کرامو په راهنمايۍ کښې سلطنت چلول شروع کړو، د 400 کالو پورې يې په کاميابۍ سره وچلوله- کله چې 4 صدۍ تيرې شوې نو شيطان په اِنساني شکل کښې د هغۀ خوا له راغلو او وه يې وئيل: مَن اَنتَ؟ ته څوک يې؟ بادشاه ووئيل: زۀ د آدم عَلَيۡهِ السَّلَام په اولاد کښې يو ګَس يم- دلته شيطان په دۀ باندې خپل جال ور واچولو، وه يې وئيل: ته اِنسان نۀ يې، که ته اِنسان وے نو څنګه چې دلته نور خلق مړۀ کيږي، ته به هم مړ شوے وې خو ته د 4 صدو نه حکومت کوې، تا له مرګ رانغلو، د دې نه ثابته شوه چې ته اِنسان نۀ بلکې ته خُدائے يې، دا دِين او د علماؤ صحبت پريږده! خلق د خپل عبادت طرف ته راوبله!

بيا دے د شيطان په خبرو کښې راغلو او په دۀ باندې هم د عقل پرستۍ پيريان کيناستل، دۀ دِين او د الله پاک راليږلے شوے هدايت پريښودو او د خُدايۍ دعویٰ يې اوکړه- کله چې دۀ داسې اوکړل نو الله پاک د هغه وخت نبي عَلَيۡهِ السَّلَام ته وحي وفرمائيله، حکم وشو: دې بادشاه ته ووايئ! چې د څو پورې ته په نيغه لار باندې وې نو ما ستا سلطنت په

زبردسته توګه قائم وساتو، اوس چې تا زما نافرماني شروع کړه، بس زما د عزت او د جلال قَسَم---!! اوس به پهٔ تا باندې بخت نصر (نومې ظالِم بادشاه) مسلط کولے شي- بيا هم داسې وشول، څهٔ موده پس بخت نصر پهٔ هُغه بد بخته بادشاه باندې حمله اوکړه، د هغهٔ سر يې قلم کړو او د هغهٔ سلطنت يې قبضه کړو- (1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د عبرت خبره ده---!! بادشاه وو، طاقت والا وو، د خزانو والا وو، 400 کاله حکومت يې کړے وو، د څو پورې چې يې د الله پاک د دِين تابعداري کوله، د رَبِّ کريم فرمانبردار وو، د هغهٔ سلطنت چليدو، چې څنګه هغهٔ د دِين نه اِنڪار اوکړو، د دِين نه يې مخ واړولو، د عقل پهٔ جال کښې وه انښتو، د شيطان پهٔ جال کښې راګير شو نو تباه او برباد شو، د هغهٔ بادشاهي، د هغهٔ سلطنت، د هغهٔ تاج او تخت، د هغهٔ طاقت هيڅ هم هغه د الله پاک د قهر نهٔ بچ نڪړے شو- پهٔ دې کښې زمونږ د پاره سبق دے چې مونږ ته پهٔ هر ساعت کښې، هر وخت، د ژوند پهٔ هره معامله کښې، پهٔ هر لحاظ سره د دِين او شريعت فرمانبرداره اوسيدل پڪار دي، پهٔ دې کښې زمونږ خير دے، پهٔ دې کښې زمونږ عزت دے، پهٔ دې کښې د دواړو جهانو کاميابي ده، هم دا زمونږ د ژوند اصلي معيار دے-

## شريعت يا خپل مزاج ---؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِله! مونږ مسلمانان يو، مونږ دِين، شريعت، د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکمونه منو، هغه د زړهٔ نه منو خو دلته يوه مسئله ده، ډير ځل مونږ ❁ د ذاتي مزاج پهٔ وجه ❁ د معاشرې د رسم او رواج پهٔ وجه ❁ پهٔ خپله توګه د خپل دُنيائي عزت بچ کولو پهٔ وجه دِين او شريعت وروستو کوو ❁ مثلاً د وادهٔ موقع راغله، د ډيرو خلقو ذِهن وي چې که چرې ډول باجې پڪښې نهٔ وي نو وادهٔ مزه نهٔ کوي ❁ د

---

[1]… نوادر القليوبي، صفحه:9۔

څهٔ خوشحالیِ موقع راغله، بیا خلق پهٔ خاندان کښې د خپل عزت بچ کولو د پاره شریعت وروستو کوي ❁ د پردې معامله ده، پهٔ دې کښې خلق د خاندان رواج، معاملو وغیره ته ګوري او پهٔ شریعت باندې عمل نهٔ کوي ❁ مثلاً که پهٔ خپلو لوڼو باندې پرده کووم نو خاندان والا به خبرې کوي ❁ که ږیره پرېږدم نو خلق به څهٔ وائي؟ ❁ که عمامه پهٔ سر کړم نو خلق به څهٔ وائي؟ ❁ که د سُنَّت مطابق جامې واغوندم نو خلق به څهٔ وائي؟

دا چې کوم حالات جوړېږي، دا ښه نهٔ دي- یو منافق ګس وو: اَخنَس بن شُرَیق، د هغهٔ پهٔ باره کښې پهٔ قرآنِ کریم کښې اِرشاد دے: (1)

وَ اِذَا قِیْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ؕ وَ لَبِئْسَ الْمِهَادُ۝۲۰۶

(پارہ:1، سورۂ البقرۃ:206)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او چې کله هغهٔ ته ووئیلے شي چې د اللّٰه نه ویرېږه نو هغه خپل ضد نور ګناه ته راپاروي نو داسې ګس له دوزخ کافي دے، او هغه ضرور ډېر بد د اوسیدو ځائے دے-

معلومه شوه چې د منافق دا نخښه وي چې که هغه پوهه کولے شي نو هغه پهٔ خپله خبره باندې کلک ودرېږي، د بَل خبره د خپل ځان سپکاوے ګڼي، د نصیحت کولو نه د خپل عزت مسئله جوړوي- (2)

## هم پهٔ دِین سره عزت میلاؤېږي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پهٔ دې کښې نصیحت دے، مونږ له پکار دي چې خپل

1... تفسیر طبری، پارہ:2، سورۂ بقرۃ، زیر آیت:206، جلد:2، صفحہ:332۔

2... تفسیر صراط الجنان، پارہ:2، سورۂ بقرۃ، زیر آیت:206، جلد:1، صفحہ:323۔

دُنیائي، خیالي عزت د دِین پهٔ لار کښې خنډ [یعنې رکاوټ] نهٔ جوړوو، د هر څیز نه زیات دِین له ترجیح ورکړو، دِین او شریعت چې د کومې خبرې حکم اوکړي، د زړهٔ نه، پهٔ شوق او ذوق سره پهٔ هغې باندې عمل اوکړو، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! پهٔ دُنیا او پهٔ اخرت کښې به مو عزت نهٔ کمیږي بلکې د مخکښې نه به نور هم زیاتیږي-

پهٔ بصره کښې یو بُزُرګ د مِسکي پهٔ نوم باندې مشهور وو- مشکو ته پهٔ عربۍ کښې مِسک وائي- لهذا د مِسکي معنیٰ شوه مُشکبار یعنې د مشکو د خوشبويۍ نه ډک- هغه بزرګ رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه به هر وخت خوشبوداره وو- د دې پورې چې پهٔ کومه لاره باندې به تیریدلو نو د هغه لارې نه به هم خوشبوئي تلله! کله چې به جومات ته داخل شو نو د هغوئي د خوشبوئي نه به خلقو ته معلومه شوه چې حضرت مِسکي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه تشریف راوړے دے- چا ورته عرض اوکړو چې حُضُور! تاسو خو به پهٔ خوشبويۍ باندې ډیر رقم لګوئ؟ وه یـې فرمائیل: ما نهٔ چرته خوشبوئي اخستې ده او نهٔ مې لګولې ده- زما واقعه ډیره نا اشنا ده: زهٔ د بغدادِ مُعَلّٰی پهٔ یوه مالداره کورنۍ کښې پیدا شوم- لکه څنګه چې مالداره خلق پهٔ خپل اولاد باندې تعلیم کوي، پهٔ ما باندې هم هغه شان تعلیم اوکړے شو- زهٔ ډیر ښکلے او حیادار ووم- زما والد صاحب ته چا ووئیل چې دے پهٔ بازار کښې کښینوه د پاره د دې چې دے د خلقو سره میلاؤ شي او د دهٔ حیا څهٔ کمه شي- نو زهٔ د کپړې پهٔ یو دکان کښې کښینولے شوم- یوه ورځ یوې بوډۍ څهٔ قیمتي جامې راویستلې، بیا یـې د کپړو والا ته ووئیل چې زما سره څوک اولیږه چې کومې جامې خوښې شي د هغې د اخستو نه پس پیسې او باقي کپړې واپس راوړي- دکاندار زهٔ د هغې سره ولیږلم- بوډۍ زهٔ یو عظیمُ الشان محل ته بوتلم او یو سینګار شوې کمرې ته یـې ولیږلم- څهٔ ګورم چې پهٔ کالو سینګاره یوه ښکلې پیغله جینۍ پهٔ تخت باندې ناسته ده، زهٔ چې یـې ولیدم نو پهٔ هغه جینۍ باندې شیطان غالب شو او هغه یو دم زما خوا له راغله او پهٔ چیړلو پهٔ مخ تورولو [یعنې زنا کولو]

راغله- ما پهٔ ويره ووئيل: د الله پاک نه ويريږه! خو پهٔ هغې باندې شيطان پوره مسلط وو- ما چې کله د هغې ضد وليدو نو د ګناه نه د بچ کيدو د پاره مې يو سوچ اوکړو او هغې ته مې ووئيل: زهٔ اِستنجاء خانې ته تلل غواړم- هغې چې اواز اوکړو نو د څلور واړو اړخونو نه وينزې راغلې، هغې ووئيل: خپل آقا بيتُ الخَلاء ته بوځئ! زهٔ چې کله هلته لاړم نو د تنبتيدو څهٔ لار مې وه نهٔ ليدله، ما له د هُغې زنانه سره **پهٔ مخ تورولو** د خپل رَبّ نه حيا راتلله او پهٔ ما باندې د دوزخ د عذاب ويره غالبه وه- نو هم يوه لار پهٔ نظر راتلله او هغه دا چې ما د اِستنجاء خانې پليدې پهٔ خپل لاس مخ وغيره باندې وَمږله او ښه ستړګې مې راوېستې او هُغه وينزه مې ويروله کومه چې بهر رومال او د اوبو پهٔ لاس ولاړه وه، کله چې ما د ليونو پهٔ شان چغې کړې او د هغې طرف ته مې منډې کړې نو هغه ويريدله او وتښتيدله او هغې د پاګل پاګل شور جوړ کړو- ټولې وينزې راجمع شوې او هغوئې پهٔ شريکه زهٔ پهٔ يو ټاټ کښې راونغښتم او اوچت يې کړم او پهٔ يو باغ کښې يې وغورځولم- زهٔ چې کله پوهه شوم چې هُغه ټولې لاړې نو راپاڅيدم او خپلې جامې او وجود مې وينځلو او پاک مې کړو او خپل کور ته لاړم خو چا ته مې دا خبره اونکړه- هُغه شپه ما پهٔ خوب کښې وليدل چې څوک وائي: ستا د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام سره څومره ښکلے مناسبت دے- بيا يې ووئيل: آيا ته ما پيژنې؟ ما ووئيل: نا- نو هغوئې ووئيل: زهٔ جبريل عَلَيْهِ السَّلَام يم- د هغې نه پس هغوئې زما پهٔ مخ او وجود باندې خپل لاس راښکلو- د هُغه وخت نه زما د وجود نه د مشکو بهترينه خوشبوئي شروع شوه- (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے--!! غور اوکړئ چې کله اِنسان پهٔ دِين باندې د عمل کولو د پاره، د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمانبردارۍ د پاره د خلقو د خبرو فِکر پريږدي نو وګورئ چې رَبِّ کريم د هُغه اِنسان عزت څومره زياتوي، هُغه بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

[1]… روض الرياحين، الحكاية سابعة عشرة بعد الاربع مئة، صفحه:334-

د شریعت د حکم منلو د پاره ځان بدبوداره کړو خو الله پاک هغوئي پهٔ مستقل توګه خوشبوداره کړو- بس مونږ له هم پکار دي چې د الله پاک پهٔ رالیږلے شوي دِین باندې، د الله پاک پهٔ کتاب، او د هغهٔ د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ فرامینو باندې عمل اوکړو، اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! پهٔ دُنیا او پهٔ اخرت کښې به زمونږ کامیابي نصیب شي- الله پاک دې د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## آن لائن اِستخاره

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ د خلقو د اسانۍ او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمَّت د غمخورۍ د پاره موبائل ایپلي کیشن ***Online rohani ilaj & istikhara*** معارفي کړے دے- د دې ایپلي کیشن پهٔ مرسته تاسو ❁ آن لائن استخاره کولے شئ ❁ د بیمارۍ، نظر، جادو، منتر وغیره مسئلو د حل کولو د پاره في سبیل الله تعویذونه حاصلولے شئ ❁ او آن لائن کاټ هم کولے شئ- نور پهٔ دې **ایپلي کیشن** کښې ❁ د بیمارۍ ❁ غریبۍ ❁ غم، پریشانۍ ❁ او د افتونو او بلاګانو وغیره نه د حفاظت مختلف اوراد او وظیفې هم شاملې دي- پهٔ خپل سمارټ فون کښې دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړئ! پخپله ترینه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

د بیان پهٔ اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

# صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

**مسئله:** آيا د چشمو اچولو سره نـمونځ کولے شي؟

**وضاحت:** عام طور خلق د چشمو اچولو سره د نـمونځ کولو متعلق د پريشانۍ ښکار وي، ځينې خلق د چشمو اچولو سره نـمونځ کوي او بعضې دا صحيح نۀ ګڼي- پۀ دې باره کښې شرعي مسئله دا ده چې **د چشمو اچولو سره نـمونځ کول جائز دے**- آؤ! پۀ دې کښې يو احتياط کول ضروري دے، هغه دا چې **د پوزې هډوکے پۀ زمکه باندې جُخت لګول واجِب دي**- ځکه پکار دي چې چشمې اچولے شوې وي او که نۀ، د پوزې سر نۀ بلکې سخت هډوکے پۀ ډير احتياط سره پۀ زمکه باندې داسې ولګوئ چې د زمکې سخت والے محسوس شي، که چرې د چشمو پۀ وجه صرف د پوزې سر ولګيدو او سخت هډوکے وه نۀ لګيدو نو واجب به پاتې شي او نـمونځ به مکروهِ تحريمي شي او داسې نـمونځ واپس راګرځول واجب کيږي-[1]

**نوټ:** د چشمو فريم که د سرو زرو يا سپينو زر وي نو د دې پۀ اچولو نـمونځ سخت مکروه دے-[2]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... دار الافتاء اہلسنت، فتوی نمبر:Sar7773۔

[2] ... فتاوٰی رضویه، جلد:7، صفحه:318 ملتقطًا۔

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

### یَا بَرُّ

څوک چې یَا بَرُّ 7 کرته ولولي او په ماشوم باندې يې دم کړي او الله پاک ته یې وسپاري، د بالغیدو پورې به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! ماشوم د بلاګانو نه محفوظ وي- [1]
الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... مدنی پنج سورہ، صفحہ:256۔